دمقالی لیکونکي : الفرد دبلیو مککوی (Alfred w. McCoy) .
منبع اود خپریدو نیټه : ګاردین «9-1-2018» .
ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

آوږد لوستل :

## دهیروینوسوداګري څنګه په افغانستان کی دامریکی اود بریتانیی ناکامی تشریح کوي؟

## How the Heroin Trade Explains the US-UK Failure in Afghanistan?

**شپاړلس کاله جګړه اودیوتریلیون دالر په لګښت سره بیاهم دغه جګړه پای ته ونه رسید، اما په افغانستان کي دلوید یخ دلاس وهنی پایله دنړي په سطح کی دغه هیواد د مخد ره توکو دتولید په لمړنی هیواد واړول.... الفرید دبلیو مککوی .**




د تاریخ په اوږدوکی یوله خورا اوږد جګړی څخه همدغه دافغانستان روانه جګړه دي کوم چی دامریکي متحده ایالات ددغی جګړی دما تي په درشل کی قرارلري .اودا څنګه ممکنه دي؟ اویا څنګه کیدای شي چي د نړی یواځنی زبرځواک د (۱۶) کا لو دجګړی په اوږدو کی اوهغه هم په دوامدار اوپه نه تمیدونکي بڼی سره دسلو زرو سرتیرو په پلی کولو اود (۲۳۰۰) امریکایي سرتیرو دژوند په دترلاسه ورکولو او د یو تریلیون دالریا (۷۴۰) ملیارد انګلیسی پونډ په مصرف سره اودیو لړ نظامی ځا نګړی عملیاتونو

*په تر سره کولو اود ملت جوړونی دپاره د(۱۰۰) ملیا ردو دالرو په لګښت اود خپل افغانی متحد دولت د (۳۵۰۰۰۰) سرتیرو په روزلو او هغو ته د جنګی مهارتونو په ورکولو سره بیاهم ونشو کړی چي د نړي په سطح کی یو له ډ یر نادار او بی وزلی هیواد یعنی افغانستان کی ټیکا و اوآرامی مینځته راو لي . دبله اړخ څخه امریکی دخپل متزلزل لړلید پر بنیاد په دغه هیواد کي دثبات د را مینځته راوړلو دپاره د اطمینان په نه لرلو سره په کال (۲۰۱۶) کی دسپیني مانۍ واکمن(بارک اوباما) له افغا نستان څخه دخپل سرتیرو دراوتلو مخکینی پلان کړ شوی طرح یی لغو کړ او مسولومقاما تو ته دنده ور پرغاړه کړ چی دیو نامحدود مودی دپاره (۸۰۰۰) نور اضا فی سرتیری افغا نستان ته ولیږی .*

*ځما په نظر دافغانستان په جګړه کي دامریکی دمتحده ایالاتو په ما تی او ناکامی کی یو پرادوکس ( تناقض) پروت دی اوهغه داچي د امریکی د متحده ایالاتو نظامی ستر جا سوسی ځواکمنی د تریاکو دیو صورتی ګل په واسطه سره په ټپه دریږی.*



*دبلی خوا څخه په افغا نستا ن کی ددری لسیزو په اوږدو کی د واشنګټن نظا می عملیات هغه وخت بری او کامیا بی تر لاسه کړ ، چي مرکزی آسیا ته د تریاکو دغیر قانونی ترافیک بند کړ او کله چی بیا ونتوانید ل چی دغه پروګرام بشپړ کړی نو دیو څّه سرخوړی اوخپګان سره مخا مخ شو.*

*دا دسږي جګړي په وخت کی وه چی دامریکی متحده ایالات په لمړی سرکي دافغانستان*

په داخلي چارو کې په لاس وهنو باندي پيل کړ او له افغاني شورشيانو او جګړه مارو جهادی ډلو ټپلو څخه کوم چي هغوی له افغا نستا ن څخه د شوروی اتحاد د سرتيرو دخا رجولو د پاره جګړه کول ملاتړ اوحمايت وکړ ، شوروی اتحاد د دسمبر ميا شت کال (۱۹۷۹) کې په افغانستان کې دخپل کيښينول شوی لاس پوڅي رژيم د ريښي اود ژيری دايستلو دپاره پر افغا نستا ن باند يرغل وکړ اوکابل يې تر خپل ولکې او اشغا ل لاندی راوستل واشنګټن کوم چي د سيګون (ويتنام) دسقوط څخه څلور کاله دمخه لا دهغه دما تې زخمونه جوړشوی نه وه نو ځا ن سره داسي پريکړه وکړ چي د اسلامي مقاومت ( افغاني جهاديان ) په حما يت او ملاتړ کولوسره (خپل ويتنام ) مسکو ته ورکړی يعني چي افغا نستا ن مسکو ته په (ويتنام ) واړوي.

دامريکې دمتحده ايالاتو د«سی آی ای » تر مستقيم نظارت لاندی افغاني (مجاهيد ينو ) ته د ر اتلونکي پنځه کلو نو د پا ره تر (۳) ملييا رده دالر ما لی او تسليحا تې مرستې ولېږدول ، امريکا يا نو په دی با ور وه چي د دغه ځانګړی شوي ما لی مرستی څخه سربيره افغاني مجا هيد ين دترياکو دحاصلاتو څخه د پيسو په ترلاسه کولو سره دا توان به پيداکړی اويا ددی به جوګه شي چي شوروی قوتونه په اجبار سره له افغانستان څخه اوباسي .

هغه يوائځنی دليل کوم چي په افغانستان کي دامريکی دمتحده ايالاتو ستراتيژی بريالی شو، دا وه : چی د (سی آی ای ) سازمان خپل افغاني متحد ا ن (مجا هيد ين ) وهڅول يا هغوی ته اجازه ورکړ چی ددغه جګړي په اړخ کی د تريا ک په تجارت ، ترافيک او راکړی ورکړی با ندي هم دنورو هيوادونو سره لاس پوری کړي تر څو چي دغه جګړه د ما لی اوبودجوی له اړخه ګرم و او دوامداروسا تي .

پر افغانستان باندي دامريکي دمتحده ايالاتو داکتوبر مياشت کا ل (۲۰۰۱) له يرغل اواشغا ل او ددوامدار نه تميد ونکي جګړي سره سره بياهم دامريکی جګړه مار حلقی دخپل آرام هڅې اواند سره د طا لبا نو په شورش او ياغيتوب کی ونشو کړی چي کموالی راولی اودهغه عمده دليل دا وه چي دامريکي متحده ايالات په آساني سره ونشو کړي چي دافغانستان د هيروين د تجا ر ت داضا في پړسوب يا تورم (swelling surpulus) مخه ونيسي . کوم چي په دي اړوند تولو ته معلوم دي چي په افغا نستا ن کی د تريا ک کلني توليدات له (۱۸۰) ټن پر افغانستان با ندي ديرغل په (۲۰۰۱) کال بيا تر( ۳۰۰۰) ټنه ديرغل دکال څخه وروسته زيات شو اوبيا دکا ل (۲۰۰۷) څخه راوروسته دترياکو توليدات کال په کال زياتيده کوم چي بيا تر (۸۰۰۰) ټنه پور ورسيد اود هر کا ل دپسرلي په را رسيدو سره دترياکو دحاصلاتو اودتوليداتو په را ټولو سره اود هغی له خرڅلاو څخه دطالبانو خزانی ډکيد ل اوطا لبا نو ته دا چا نس ور په برخه کيدل چي د ترياکو دخرڅلاو په پيسو سره نوی چريکی او جنګيا لی دتنخواه يا د مياشتني معاش په ورکولو سره دجګړی اودجنګ کولو د پاره استخدام کړي.

د یا دونی وړ مطلب داچي دغه جګړه په همدی (۴۰) کا لو کي د هر پسرلی په راتګ سره اودنوی چریکی اوجنګیالی طا لبا نوپه استخدامولوسره دځان سره غم لړلی تراژیدی هم راوستی دی اودافغانستان ددولت پرضد جګړی کي طالبانو خپل سنګرونه یی ګرم سا تلی دي دافغانستان په تراژیدی کی له اشغال څخه راوروسته بیا په دغه (۴۰) کا لو کی له مخفی یا پټ جګړی (دسی آی ای پټ عملیا تونه دافغانستان ددولت په مقا بل کي ) څخه په کال (۱۹۸۰) ، وروسته بیا داخلی جنګ په کال (۱۹۹۰) کی اوبیا لا تراوسه دجنګ اودجګړی دوام شا مل دی چي دځان سره غم لړلی پیښی راوړی دي . **کوم چي ددی هیواد د خلکو په سرنوشت کی تریا ک خپل رغنده نقش لوبولی دي اوددی هیواد د تاریخ یوله ډیر تریخ او ځا نګړی نا راحتی او نا رامی څخه دادي ، چي د افغا نستان دژوند چا پیریا ل دامریکی د متحده ایا لاتو د نظا می تکنولوژی په همغا ړیتوب سره دغه په وچي سره محا ط ، لیری پروت د نړی په سطح کی د یو ریښتینی مخدره توکو په هیواد باندی اړولی دي.** اولکه دنوروهغه هیو ادونوپه شان کوم چي په هغه هیوادونو کي د مخدره موادو غیر قانونی تجارت دهغو پر اقتصاد باندی په برلاسی او غلبه کولو سره دهغه هیواد سیاسی کړنلاره ، برخه لیک اوخا رجی اړیکی او مداخلات راتړا کی ا فغا نستا ن هم دهمغو هیوادونو په ردیف کی اوس قرار نیولی دي.



دامریکی د متحده ایالاتو د (سی آی ای ) پټ او مخفی جنګ د (۱۹۸۰) لسیزی په اوږدو کی دشوروی اتحادله خوا دافغا نستا ن داشغال په وړاندي دافغا نستا ن اود پاکستان پولی ( سرحدات ) دجها نی هیروین د تجارت د یو معبر په بنه واړول ، لکه هغسی کوم چی دامریکی دبا ند نیو چارو دوزارت وزیر په کال (۱۹۸۶) کی داسی څرګندونه کړی وه : **[ د قبا یلو په سیمو کی پولیس اویا د پولیسو پواسطه سره نظا رت نشته ، هلته هیڅ محکمه اویا « دادګاه » وجود نه لری ،هلته له چا نه څوک ما لیا ت نه راټولوی هلته د هیڅ ډول سلاح ګرځول راګرځول غیر قانونی نه دي ...چرس اوهیروین اکثرا په نا محدود او آزاد بڼی سره د لوبی اود نما یش په حا ل کی لیدل کیږی ]** .

په هغه وخت کي دشوروی اتحاد دقوتونوپرضد جګړه کي دجګړه مارو اودشورشیا نو ( افغانی مجاهیدن ) دتشکیلاتو اودهغو د بسیج کولو هڅی اواند جریان لرل ، اما ددی پر ځای چي د افغا نستا ن د مقا ومت رهبران خپل ایتلاف جوړ کړي دامریکی دمتحده

ایالاتو د(سی آی ای ) سازمان د پاکستا ن د (آی اس آی ) اود خپل افغا نی مشتریا نو او خپل پلویا نو په اتکا او ډېره لګولو سره په ډیر چټکي سره داسي زمینه رابرابره کړ چی ددواړو هیوادونو په پولو (سرحدات) کي د مخدره موادو دراکړی ورکړی ، ترافیک او قاچاق کولو اصلی لوبغاړی په بیړه سره وده وکړ.

دبلی خوا څخه د (سی آي ای) سازمان په افغانستان کي دتریاکو دکلنی تولید اودهغه دحاصلاتو په زیاتید وسره یعنی له (۱۰۰) ټن اضافی تولید څخه په کال (۱۹۷۰) بیا تر(۲۰۰۰) ټنه په کال( ۱۹۹۱) کی د یوی بلی مفکوری په لټه کي شواوهغه داچی نوموړی سازما ن د افغا نستا ن اود پا کستا ن دپولو په اوږدو کی دتریاکو لابراتوارونه اویا تصفیه خا نی چی تریاک په هیروینو با ندی واړوی په عملی بڼی سره په کار پیل وکړ ، نو دهمدی اقداماتو په لړ کي لا ډیر وخت نه وه تیر شوی چي دغه سیمه دنړی دهیروین په یوبی سا ری تولید کونکی سیمی با ندی واوړید . چی د (۱۹۸۴) تر کا له پوري دامریکی په مارکیټ کی (۶۰) سلنه اوداروپا په بازارونو کي (۸۰) سلنه هیروین دخرڅلاو د پا ره وړاندی ( عرضه ) شو دبلی خوا څخه د پا کستان په د ننه کي هیروین ته د معتا دا نو شمیر چی په کال ( ۱۹۷۹) کی صفر وه تر کال (۱۹۸۰) پوری تر (۵۰۰۰) تنو ته ورسید اوبیا په (۱۹۸۵) کی دغه د پا کستان هیروینو ته د معتا دا نو شمیر تر (۱،۳) ملیونو کسو ته لوړ شو. او دهیروین په اعتیاد سره دخلکو دمرګ او ککړید و کچه په نوموړی هیواد کی تر ټکان ورکونکی حد پوری ورسید.



دننګرهار په ولایت کی یو بزګرد خشخاش د تخم دپا شولو په وخت کی«سمت دګاردین دپاره»

دامریکی دمتحده ایالاتو دبا ند نیو چارو د وزارت د (1986) کال دیو راپور په اساس تریاک په یو جنګ ځپلي هیواد کي یوه ایده ال اویایوه په زړه پوری محصول اویا پیداوار دي کوم چی دډیر کم پا نګي اچونو سره محصول ورکوي ، په بیره سره دکرلو څخه وروسته وده کوي اوپه ډیر آساني سره حمل ونقل کیږی اودبلي خوا څخه د افغا نستا ن آب وهواد تریاک دکرهنی اودهغه دحاصلدهي د پاره ډیره مناسب اقلیم دي



دشوروی اتحاد دسرتیرو اود(سی آی اي ) په بی رحمانه جنګ جګړه کي ډیر بی ګناه خلکو خپل ژوند دلاسه ورکړل ، افغانی بزګرانو په ډیر شد ت اوبه ډیر زړه ګرمي سره د تریا کو په کرلو با ندی پیل وکړل او دا ځکه چی د تریاکو له خرڅلاو څخه دنورو محصولاتو په پرتله زیات پیسي ترلاسه کیږی کوم چي بزګران ددی پیسو په تر لاسه کولو سره خپل غذایي موادکه هرڅومره قیمتې یی لوړ تللی هم اوسیده ترلاسه کولای شو په عین وخت کی دامریکی دبا ند نیوچارو دوزارت په راپور کي ذکرشوی چي دمقاومت غړی یعنی شورشی افغانی مجاهید ین د مخدره موادو په تولید اودهغه په قاچاق کولو با ندي په کار پیل کړی کوم چي د تریاکو د پیسو په د ترلاسه کولو سره اوس کولای شی چی ځان مسلح کړي اوهم په هغو سیمو کی چي د هغوی تر کنترول لاندی دی د خلکو ورځنی احتیا جا ت را برابر او چمتو کړی یعنی هم جګړه اوهم تجارت .

دیادونی بل مهم مطلب داچي لکه همغسی چی دځمکی پرمخ مجاهید ینو د شوروی اتحاد دسرتیرو داشغال په مقابل کی پرهغو با ندی بریدونه کول نو د (۱۹۸۰) کال په لمړیوکي افغانی مجاهید ین دافغا نستا ن په دننه کي زیات سیمی اومنطقی تر خپل ولکی او تسلط لاندی راوړل او په همدی وخت کي وه چی دغه دمقاومت غړی (مجا هید ین )

دهغه بزګرانو څخه چې خشخا ش کرلی وه دما لیی په تولولو باندی پیل کړ خصوصاً دهلمند دوادی له بزګرانو څخه – دبلی خوا څخه دافغانی مجا هید ینو هغه کاروانونه او قافلی چی د ( سی آی ای) مرسته شوی سلاح او جنګی مهما ت افغانستان ته د مقاومت جنګیا لیو ته راوړل نو له ا فغا نستا ن څخه د (سی آی ای ) اود پا کستا ني افسرانو په اجا زی سره تریاک پا کستا ن ته وړل- دا هغه مطلب دی چې د نیویا رک تا یمز په راپورونو کي ورڅخه یا دونه شوی دي .

چارلس کوګان (Charles Cogan ) د (سی آی ای) دسازمان دپټ عملیاتونو پخوانی لوی مد یردخپل سازمان دکړنی اودهغه سازمان آنتخاب کړشوی هدفونو په اړین په کال ( ۱۹۹۵ )کی دیوآژانس له خبریال سره دخپل مصاحبه په ترڅ کي داسی څرګندونه وکړ : زمونږ اصلی ماموریت په افغا نستا ن کي دا وه چي شوریانو ته ضرر ورسو ، اما په ریښتنی بڼی سره مونږ دومره وخت نه درلود چي د تریاکو په راکړی ورکړی باندي ځا ن متمرکز کړو او مونږ ددی موضوع په اړه له چا څخه عذر خواهی هم نه کوو – هوکی زمونږ اصلی هدف شوریانو ته ضرررسول وه چی هغه موترسره کړ اوشورویان مو مجبور کړ چي له ا فغا نستا ن څخه پښی سپکی کړ اوګرده سره ووتل.

په افغانستان کی دامریکی دمتحده ایالاتو داوږد مهال لاس وهنو او مداخلی په لړ کي دبی ثبا تی یوه جیوپولیتیکي ګودال رامینځته شوچی ددغی ګودال بیا له سره ډکول غیر ممکن اوناشوني ښکا ری یعنی د ا فغا نستا ن وضع له سره بیا په آسا ني بڼی سره به بهبودی تر لاسه نکړی یا دافغانستان هغه را پیداشوی ټپونه به التیام پیدا نکړی کوم چی دامریکی دمتحده ایالات د مداخلی په لمړیو وختونو کی ترلاسه کړی وه یا لکه همغسی چی افغانستان د (۱۹۸۹) او(۱۹۹۲) کلونو په مینځ کی دشوریا نواودمجاهید ینو دجګړی په کلونو کی ټپی شوی وه. واشنګټن بی له دی چی ددغه هیواد دبیا رغونی او دبیا سولی اودثبات په راوستلو باند ي متی ونغړی له ا فغا نستا ن څخه دخپل ټولو متحدو هیوادونو سره ووتل اود ا فغا نستا ن خلکوته پا م ونه سا تل . بلکه واشنګټن له افغانستان څخه ډیر لیری په افریقا یي اود پا رس دخلیج په هیوادونو کی د خپل با ند نی سیاست د لابهبودی د پاره په کارپیل وکړاوافغانستان یی دداخلی جګړی په اورکی ورتیل ووهل چی دهمدغه داخلی جګړی په ترڅ کی یعنی د (۱۹۷۹) او (۱۹۸۹) کلونو په موده کي تر (۱،۵) ملیون بی ګناه افغانان خصوصاً په کابل کي خپل ژوند دلاسه ورکړ چی د ا فغا نستا ن د نفوس (۱۰) سلنه برابروی- دبلی خوا څخه دامریکی د(سی آی ای ) جاسوسی سازمان دافغانستان دداخلی جنګ په مهال کي دډیرو جنګ سالارانو په مینځ کی هلی ځلی کول او جنګ سالاران دقدرت رانیولو ته تشویقول- افغانی بزګران یی د تریاکو کرکیلنی ته هڅول ترهغه ځا یه پوری کوم چي د ا مریکی د (سی آی ای ) د مخفی جګړو په مهال(۱۹۸۰)کي دتریاکو حاصلات (۲۰) چنده شواوبیا تر کال (۱۹۹۰) پوری دکوکنار تولیدات له دوچند څخه لا پسی پورته شو .

په دغه درهم اوبرهم او نارامه دوره کې دتریاکو دتولیداتو دزیاتوالی ځواب ممکن دی چي ددوه لسیزو شد ید ورانونکې جګړی پا یلې وپیژند ل شی کوم چی په یو ناڅا پې بنې سره دغه جګړه ځپلې هیواد ته تر دری میلونه ګڼوالی بیرته را ستنیږی اود کا ر اویا د دندی د مېند لو د پاره لکه چی چا ته خدای وربخښلې وی دتریاکو په خالی (بوره ) ځمکو کې په کار اودتریاکو په کرلو پیل کوی کوم چی دسنتې پیداوارو (غنم ) دکرکیلنې په پرتله دکوکنارو کشت دپاره نه ځلی بزګر اویا مزدورانو ته اړتیا لیدل کیږی یعنی د تریاک په کشت او کرهنه کې زیات بزګران اویا کارکونکو ته ضرورت وی .دبلې خوا څخه یواځې د تریاکو تاجران وشو کړلی چی په کافی اندازی سره سرمایه راټول کړي او هغه داچی دغه دتریاکو سوداګرو نادار اوبی وزلی بزګرانو ته نقد ینه پیشکی کریدت ورکړ کوم چی دغه پیسی دهغو د نیمای کا ل عا ید تشکیلول او هغوی په دغه پیشکی اعتباری پیسی سره کولای شو چی خپل ژوند او بقا ته دوام ورکړی .

دیا دونی وړ مطلب داچی د داخلی جګړی په لمړیو پړاونو کې له [کال (۱۹۹۲) څخه تر کال (۱۹۹۴) ] پوری بی رحمه جنګ سالاران دقدرت دتر لاسه کولو دپاره په ګډه اویا په ترکیبې بڼې سره وسله او تریاک دواړه په کار واچول ، وروسته بیا پاکستان د پښتنو دنوی پیوستون ځواک یعنی دطالبانو دغورځنګ تر شا ودرید اودهغو سره خپل ملاتړاعلان کړ، طا لبا نو په کال (۱۹۹۶) کې وروسته دکابل دنیولو څخه بیا دافغانستان نورزیاتی برخي ترخپل تسلط او کنترول لاندی راوستل ، نو کله چي طالبانو دافغانستان په اکثرو لایاتو اوسیموباند ي مسلط شونو محلی بزګران یی وهڅول چی دتراکو کرکیلنی او کرهنې ته پراخوالی ورکړی او بیا دخپل قدرت دسا تلو اود ټینګولو دپاره دتریا کو له بزګرانو څخه د ما لیی په راټولو پیل وکړ د تریاکو څخه دهیروین د ترلاسه کولودپاره لابراتوارونه سمبال کړ او بهرته دهغه په صادرولوباندی پیل کړ کوم چي دملګرو ملتونو دیو راپورپر بنیاد طالبانو دخپل قدرت په لمړیو دری کلنو کی دنړی (۷۵) سلنه تریاک تولید ول.

په هرصورت په کال (۲۰۰۰) په افغانستان کې یو ورانونکې خشک سالی راغی چی دغغ خشکسالی تر راتلونکی کال پوری هم وغزیده کوم چی خلکو د فا قګی اود لوږی سره مخا مخ کړ نو په همدی وخت کی طا لبا نو دملګرو ملتونو د توصیی په منلو سره سمدلاسه دتریاکو کشت او کرهنه یی منع کړ ترهغه چي د ملګرو ملتونو د یو راپور له مخی چی دهغه سازمان ماهران دتریاکو دکرهنې سروی دا فغا نستا ن په (۳۰۳۰) کلو کې تر سره کړی وه داسی ګذارش ورکړ چی د کوکنارو کرهنه په هیواد کې تر (۹۴) سلنه را ټیټه شوی دي .

طالبانو وروسته ددری میاشتوڅخه نیویارک دملګرو ملتونو د فترته یو پلاوی ولیږل او غوښتل چی د تریا کود بند یزپه اړین دملګرو ملتونوسره سوداګری وکړی نو دهمدی اصل پر اساس دملګرو ملتونو ځني وغوښتل چی د طالبانو رژیم په رسمیت و پیژنی اما

ملګرى ملتونه د طا لبا نو ددولت دپيژندولو په عوض کى پرهغو باندى له دى نه چي طا لبا نو **اوسا بن لادن** ته پناه ورکړى اوله هغه څخه سا تنه کوى نو پر طا لبانو باندى نوى شد يد اقتصا دى بنديزونه ولګول . اما له بلي خوا څخه دامريکى متحده ايالات د بشردوستا نه مرستى تر عنوان لاندى د طا لبا نو سره (۴۳) ميليون دالر مرسته وکړ اود امريکى دبا ند نيو چاروزير **کولين پاول** دمي په مياشت کال (۲۰۰۱) کى دطالبانو څخه ستاينه وکړ چى دترياک پر کشت باندى بند يز لګولى اما دهغوى څخه غوښتنه وکړ چي د تروريزم په وړاندى مبارزه وکړى او دبين المللى منل شوى ستندارد قوانيو په رعا يت سره بشرى حقونو ته درنا وى وکړى او د ښځو اود انجنو سره پخپل رفتار کى بد لون راولى اوله خشونت څخه لاس پرسر شي.

وروسته له هغه چى افغانستان ديوى لسيزى څخه له ياده وتلى وه واشنګټن د(۱۱/۹) تروريستى بريد څخه وروسته افغانستان يى بيا له سره ،سره وپيژند امريکايانو داکتوبر مياشت کال (۲۰۰۱) کى دخپل هوايى قوتونو پواسطه سره پر افغا نستا ن باندى يرغل اوپه بمبارى باندى پيل کړچي دامريکى سره دبريتانيا ځواکونه هم شامل وه اودافغا نستان دمحلى جنګ سالارانو سره په ګډه د طالبا نو پرتاسيساتو اوسنګرونو باندي خپل تهاجم ته دوام ورکړچي په ډير بيړه سره د طا لبا نو رژيم دړى وړى اورانسکورشو کوم چي ډير دولتى خلک با ور نه درلود چى داسى حالات مينځ ته راځى ، اما د کارپوها نوله نظره داسى انګيرل کيده چى د ترياکودکشت اود کرهنى ممنوعيت يو له خورا مهم فکتورونو څخه دطالبانودرژيم په نسکوريدوکى شميرل کيده .اوداسى احساس نه کيدل چي افغانستان ددوه لسيزو دپا ره خپل منابع ، پانګه ، ځمکه ، اوبه ، اوبشرى قوا دترياک اودهيروين دتوليد دپا ره قربا ني او ځانګړي کړي . نو کله چي طالبانو دکوکنار دکشت اودکرهنى مخه ونيول نو دهغه دنه کشت ا ونه کرکيلينى په پايله کى دهغه توليدات را ټيټ شو اما د مخدره توکو په تجارت سره د ترياک ما ليا تى ، صادراتى عوايد زيا ت کارميند نه اود اشتغال سطح هم خپل د پام وړ ونډه سره لرل.



د هلمند په ولايت کى بريتا نيا وى سرتيرى د ګزمى وهلو په حا ل کى

د طا لبا نوپه واسطه سره سمدلاسه دترياک دکرلو بند يز په واقيعت کی خپله بی له يو اقتصادی ځا ن وژنی څخه بل شی نه وه کوم چی د هغی په پا يله کی يو کمزوری هيواد لکه ا فغا نستا ن دنيستی کندی ته ور ټيل ووهل – دملګرو ملتونو يو نظر سنجی چی په کا ل (۲۰۰۱) کی تر سره شو داسی و ښود چی دترياکو د کرلو دغه ممنوعيت ددی سبب وګرځيد چی کم له کمه (۳،۳) مليون نفر چی دنفوس (۱۵) سلنه جوړوی خپل حد اقل درآمد يا عوايد دلاسه ورکړل. اودهمدی اصل په بنيا د سره غربی نطا ميا ن او جنګی حلقی وشوکړلی چی محلی افغا نی نخبګان اوګڼ شمير خلک د رژيم په مخا لفت په شورش اوپه پاڅون سره را پورته کړي.

ديوی مياشتی يو څه زيات موده کي دامريکی دمتحده ايالاتو دهوايی قوتونو وژونکي يرغليز بمب غورځونه اود افغانی جنګ سالارانو ځمکنی حملی دطالبانو پر تا سيسا تو اوسنګرونو با ندي وشو کړي چی د طا لبا نو دفاعي ځواک کمزوري او هغه ته پوره ماتي ورکړي ، اما دامريکی د متحده ايالاتو د اوږد مها ل ستراتيژی کرل شوی تخم وروسته له څلورو کا لو څخه کوم چی د طا لبا نود بيا له سره صحنی ته راتلل يا له سره ژوندی کول دي خپله يو حيراونکی مسله ښکاريږی .

سره لدی چی پرافغانستان باندي د امريکی دمتحده ايالاتو دهوايی قوتونو داکتوبر مياشت کال (۲۰۰۱) بمب ګذاری د ډيرشد يد نيوکی اوغبرګون سره مخامخ شوی وه ، دامريکی د (سی آی اِی ) سازمان د افغانی شما لی تړلوالو جنګ سالارانو د ايتلاف اود بسيج کولو دپاره (۷۰) ميليون دالر په نقدی بڼی سره ورکړ چی د طا لبا نو په وړاندي وجنګيږي کوم چي د همدی معاملی په سرته رسولو سره وروسته بيا دامريکی د متحده ايالاتو جمهورريس **جورج دبيليو بوش** په تاريخ کی ديو لوی معامله کونکي ( چاته وهونکي) شخص په توګه وپيژندل شو چي دکابل اودافغانستان دنورو کليدی ښارونو رانيول د (سی آی اي) په مينځګړيتوب سره دا فغا نستا ن د شمالی تړلوالو دتاجک تبارو جنګ سالارانو رهبرانو ته**( دغه تاجک تبار افغانی جنګ سالاران په کال (۱۹۸۰) په افغا نستان کی دشوروی لښکرو په مقابل کی سره جنګيدل اوبيا وروسته له هغه په کا ل (۱۹۹۰) کی دطالبانو په مقابل کی دمقاومت غورځنګ جوړ کړ- له ياده بايد ونه ايستل شی چي دوی د طا لبا نو د حا کميت په موده کی دا فغانستا ن په شما ل ختيځ سيموکی تسلط درلود چی د طا لبا نو سره د جګړي په څنګ کی د مخدره مواد و په ترافيک اوپه قاچاق کی هم لوی لاس درلود )** د نقدی پيسی په ورکولو دی ته چمتو کړ چی د امريکی ترلار ښونی لاندی د طا لبا نو په وړاندي وجنګيږي . دبلی خوا څخه دامريکی دمتحده ايالاتو د (سی آی ای ) سازمان د پاکستان پولو ته نژدی د پښتنودجنګ سالارانويو ګروپ ته سازمان ورکړ چی دترياکو قاچاق دافغانستان په سهيلی ختيځ سيمو کی تر سره کړي نو په پا يله کی کله چي د طا لبا نو واک له مينځه لاړ ، نو هغه تشی راپا تی( بوره ) ځمکی چی د کوکنارد کشت اود کرهڼی دپاره تيار او چمتو ځمکي وه په هغه ځمکوکی

ترياک له سره بيا و کرل شو اودهغه تجا رت بيا له سره په لويه کچه رونق پيداکړ.
کوم چي دغير قانوني مخدره موادو دپرمختګ کچه بي دکوم مخکيني تاريخي سوابق
څخه دهيواد دکال (۲۰۰۳) دناخالص توليد (۶۲) سلنه تشکيل کړی وه .
د نيويا رک تايمز دکال(۲۰۰۷) راپورله مخی داسی ادعا کيدل چي داسی نښی اونښا نې
شته چي افغانستان دامريکی له خوا داشغال په څولمړيوکلونو کی دمخدره موادودخرڅلاو
څخه تر لاسه شوي پيسي طالبانو ته ورکول کيږي کوم چی دغه موضوع بيا دامريکی
ددفاع وزير رامسفلد له خوا رد شو . حال داچي دامريکی د متحده ايالاتو د (سی آی اي )
سازمان اودامريکی پوځيانو خپل ړوند سترګي دهغو غتو جنګ سالارانو خواته اړولی
وه کوم چی هغوی دترياکو په راکړی ورکړی ترافيک او تجارت باندی مصروف وه .
سپينی مانی د (۲۰۰۴) کال په وروستيو کی، وروسته له دوکالو څخه کوم چی په
افغانستان کی دمخدره موادو کنترول دانګليسانو (بريتانياوانو) په لاس کی او د افغانستا ن
دپوليسو روزنه دالمانانو سره وه د (سی آی اي ) له خوا د يو اطلاع اود يو راپور په
ورکولوسره په تشويش او په اظطراب کی واچول او هغه داچي د مخدره موادو دآزاد
تجارت په ښه کيد و سره طا لبا نو بيا دژوندی کيدو چا نس تر لاسه کړي او نژدی دی
چی بيا په يوه قدرت اويا په يوه ځواک با ندي بد له شي نو دهمدی اصل په نظرکي نيولو
سره دامريکی دمتحده ايالاتو دبا ند نيو چارو وزير ښاغلی کولين پا ول چی د جورج
دبيليو بوش له طرفه ملاتړ کيد ل دافغا نستا ن دکليو اود با ندو تر سطح پوری د مخدره
موادوو پر ضد مبارزی دپاره يوه ستراتيژی تدوين کړ چی په دی تدوين کړ شوی نوی
ستراتيژی کی په افغا نستا ن کی دترياکو د فصلونو د له مينځه وړلو دپاره لکه چي په
کلمبيا کی د کوکاينو فصلونه د هوايي انفجارونو په ترسره کولو سره دمينځه ويوړل شو
دلته په افغانستان کی هم با يد ورته اقدامات ترسره شي اما دغه پروګرام لمړی په
افغانستان کی دامريکی د سفير **خلمی خليل زاد** اوبيا وروسته دهغه د يو محلی متحد يعنی
ښاغلی **اشرف غنی** ( چی وروسته بيا دافغانستان دماليي وزير او اوس له ( ۲۰۱۴) څخه
راهيسی دافغانستان جمهور ريس دی ) له طرفه رد کړ شو او هغوی داسی استدلال وکړ
چی دغه برنامه په واقيعت کی ديو ( پراخ بی وزلی اويا د فقر دتيغر غوړول دي ) کوم
چی ټولنه دلوړی او دفاقګی سره مخامخ کوی نو بيا په هغه صورت کی (۲۰) مليارده
خارجي کمکی ډالرو ته د بد يل معشيت «معشيت جاګزيني واقعی » دايجاد ضرورت
ليدل کيږي چي بايد ترسره شي ، اما په هر صورت واشنګتن ديو جوړ جاړی تر عنوان
لاندی خصوصی اويا نظامی قراردادیان لکه دين کورپ (DynCorp) په دی راضی
کړ چی په افغانستان کی دترياکو د ريشي دايستلو افغانی ګروپونو او يا تيمونو ته روزنه
ورکړی چي ترياک له مينځه ويسی يعنی داسی يوه لويه کوم چی د نيويارک تايمز ديو
مفسر ښاغلی کارلوت ګال (Carlotta Gall) په وينا سره دغه مضحک اودخندا وړ

پروګرام تر کال (۲۰۰۵) پورې په یوه تیوکه بدله شوی وه.

په کال (۲۰۰۷) کې دملګرو ملتونو د سروی کولو مسولین وموند چي په افغا نستا ن کي دتریاکو تولیدا ت بیا له سره د نړی په سطح کی ریکورد (RECORD) تینګ کړ او هغه داچې د تریاکو حاصلات په افغا نستا ن کي تر (۸۲۰۰) ټنه پورې ورسید او دغه منبع داسې په ډاګه کړچې دتریاکو دغه انداز محصولات دغیر قانونی هیروین په عرضه کولوسره دنړی ودهیروینو ته دنیازمندانو(۹۳) سلنه احتیاج برابرولی شي ملګری ملتونه دیوپام وړتوجهی سره داسې څرګندونه وکړچې همدغه دطالبانوجنګیالی دتریاکو اقتصادی منابعو په دترلاسه کولو سره خپل وسلي ،لوژستیکی احتیجات ،دخپل ملیشودپاره معاشونه چمتوکوی اوهغه داچي دوی یعنی طالبانوپه کال (۲۰۰۸) کی (۴۲۵) میلیون دالردتریاکو څخه د مالیی په اخیستلواودهغه د قاچاقولوڅخه تر لاسه کړاو دهرکال دتریاکو دحاصلاتو دټولولو په موسم کي دوی په دی قادرکیږی چي دجګړی ددوام دپا ره دکلیواودلیری پرتو سیمو څخه نوی ځوانان د(۳۰۰) دالر په میاشتنی معاش ورکولو سره استخدام کړی کوم چې یوه بزګرنشی کولای چی دا اندازه پیسي په بزګری کی تر لاسه کړي .

واشنګټن د (۲۰۰۸) کال په نیمیا یی کی پریکړه وکړ اوا فغا نستا ن ته تر(40000) ټنه نور اضافی سرتیری ولیږل چی په دی ډول سره په ا فغا نستا ن کی د ا مریکی د متحده ایالاتودسرتیروټول شمیر(70000) تنو سرتیروته ورسید اوداځکه چی امریکایانود کوکنارو څخه دعایداتو په تر لاسه کولوکی دهغه حیاتی نقش دطالبانو په استخدام کی په رسمیت سره پیژندلی وه اودبلي خوا څخه متحد قومانده ساحی ته دځانګړي ټیمونو او ګروپونوکوم چي د تریاکو په د له مینځه وړلوکی سره تشویقید ل هم دهمدی متحد قومانده په اختیار کی وه چی دا پخبله یو اتفاقی شیبه او زمان وه نو دهمدی ټکل اوبرخورد سره سره په کال (۲۰۰۷) کی داسی شرایط رامینځته شو چی دتریاکو حاصلات زیات شو اودتریاکو دحاصلاتوپه زیاتیدوسره دهغه قیمت را ټیټ شو اوپه عین زمان کی غنم چی دتریاکویورقابتی محصول وه نو دهمدی اصل په پام کی نیولو سره بزګرانو د با ند نیو مرستو په اخیستلو سره دغذایی محصولاتو دکشت دپاره په کلیدی ولایاتو لکه هلمند او ننګر هارکی لازمی ګټی تر لاسه کول نو په همدی وجهی سره دهیواد دخشخاشو په کشت او کرهڼه کی په کال (۲۰۰۷) کی یو څه ټیټوالی راغي یعنی له (494000) هکتاره ځمکوڅخه یوازی په(200000) هکتا ره ځمکه کی تریاک وکرل شواودوه کاله وروسته دطالبانو تر تسلط لاندی ساحو کی (123000) هکتاره ځمکه په اختیار کی شو چي دا اندازه ځمکه دهغوی دفعا لیتونو د تر سره کولو د پاره کا فی اندازی ځمکه دي . اوپه عین حال کي دروند اوبی له کوم موفقیته هڅی اواند د تریا کو د تجارت د مینځ وړلو دپاره د کوم لاسته را وړنی سره مل نشو یوازې اویوازې دامریکی د متحده ایالاتو اودهغو د متحد ینو ترمینځ د ډ یرزیات مخالفتونو کچه یو څه را ټیټ شو .

طا لبا نی جنګیا لی او یا دهغو دچریکا نو شمیر په کا ل (۲۰۰۹) کی په ډیر بیړه سره دزیا تید و په لور روانه وه ، د«بارک اوباما ة» نوی تا زه دم دولت پریکړه وکړ چي په ا فغا نستا ن کی دامریکا يي د سرتیرو شمیر (102000) تنو ته زیات کړی ترڅو چي طالبان په جګړه کي کمزوری او یا فلج کړي. نو ددی اضافی سرتیرو افغانستا ن ته لیږل اود هغوی ځای پرځای کول نژدی څومیاشتنی دوام وکړاو دجمهور ریس «اوباما» په اصطلاح سره ستر بریالی ستراتیژی دفبروی دمیاشتی په ۱۳ ( ۲۰۱۰) کال کی سهار وختی چی هوا لا تیاره اوتربږمی وه مخکی د لمر ختو څخه د هلمند په ولایت د «**ماراجا**» په یوه لیری پراته با زار کي رسماً پلی شو .

د ماراجا په ښارګوټی کی هلیکوپترونه ځمکي ته دښکته کیدو په وخت دخیل وزرونو د تند شما ل داموا جو په چلولو سره دوړی اوغبا رله شا وخوا څخه پورته کول او دهمدی دوړی په مینځ کی په سلونوسمندری امریکايي قوتونه دکوکنا رودنوی شنه شوی مزارعو خواته په ډیر منډه سره د هغه کلی په طرفه سره روانو شوه کوم چی د هغه کلی دکورونودیوالونه یی ختین اوخا وریني وه اودهلکوپترونه دراولاړ شوی دوړي په مینځ کی نه راښکاریده .



**دافغانستان پولو ته نژدی یوشمیرکسان دهیروینو په څکلو کی په پاکسان اوکویټه کي**

یوه اوني وروسته امریکايی قوماندان جنرال **ایستینلی مک کریستال** دافغانستان دجمهور ریس دمرستیا ل **کریم خلیلی** سره ماراجا ښارګوټی ته لاړ اوهغوی هلته د رسنیو دپاره دنشراتی موادو دبرابرولو په هدف او ضد شورش دتکتیکونو دپکار اچولو سره محلی خبرنګارانوته په وینا کی وویل :مونږ غواړو نورزیاتی سیمی لکه د«ماراجا» دښارګوټی

په شا ن د طا لبا نو له تسط او له کنترول څخه آزاد کړو – اما د هغه ځای « دترياکو د محلی سوداګروايده اواند يبنني » بل شا نته وه او هغه داچي که چيری دوی د لته دکوکنار فصل په تراکتور باندی واړوی نو په دي صورت کی به يوه افغانی کونډه دخپل ملګرو بزګرانو د ملاتړ اودهغو دراپارولو د پاره داسی غيږ به پورته کړي ( لمړی راشي پرما باندي دغه تراکتور وچلوی مخکی له دی چی ځما د کوکنا رو فصل په بل مخ باندي واړوی ) – نوپه همدی وخت کی**[ دامريکی دسفارت يو مامور دهغه ځای دکوکنارو له مزارع څخه دستا ليت تيلفون په مرسته سره داسی وويل : تا سی دهلمند په ولايت کي د مخدره موادو پرته له توليد څخه داجګړه نشي ګټلی ؟]**

پر طالبانو اودهغو پر جنګياليو اوترلاس لندی دترياکو پر مزارعو باندی په يرغل سره دفصلونو د په له مينځه وړلو کی پاتی راتلل کوم چی طالبانو دهر پسرلی په موسم کي دترياکو دحاصلاتودخرڅلاو څخه زياتي پيسی ترلاسه کوی او ددغه جګړی ددوام دپا ره په ميا شتنی معا ش ورکولو سره نوی ځوانان استخدام کوی **داوباما** دپريکړي څپه ډير زر په مړاويد راغي او هغه داچي دامريکی د متحده ايالاتودهغه دايتلاف د نظامی قوتونو په ا فغا نستا ن کی د مخکينی پلان سره د ميشته کيد و مهلت د دسمبر ميا شت کا ل (۲۰۱۴) کی پای ته ورسيد نو دهمدی فکتور په نظر کی نيولو سره دطالبانو پر ضد د عمليانونو په ګراف کی کموالی راغی او طا لبا نو دهمدی فرصت په استفادی سره د افغانستان پر پوځيانو اوپر پوليسو باندی خپل حملات زيا ت کړ چی دهمدی حملاتو په لړ کي دافغانستان زيا ت امنيتی قوتونه خپل ژوند دلاسه ورکړل .

په هغه وخت کي **جانسوپکو** (John Sopko) دافغانستان دپاره ځانګړی عمومی مفتش دطالبانوډژوند پاتی کيدو يا دهغوی دبقا په اړين داسی يو توضيحی وړانديز وکړ :

***« د(۶،۷) مليا رد دالرسره سره چي دترياکو د مخنيوی اود هغه د ريشه کن سا زی په اړه ددوه لسيزو دپا ره ځا نګړی شوی وه داسی څرګند کړ: په هر ممکنه توجيه او د قا بل تصور په هرورړ معيا رسره با يد ومنو چي مونږ په دغه جنګ اودخپل په دغه ټولو پروګرامونو کی د لته په افغانستان کي بلکل ناکام اود پوره ما تی سره مخاخ يو يعنی نه مو تريا ک ريشه کن کړ اونه د تريا ک د کرلو څخه مخنيوی وکړ اوس هم ترياک کرل کيږی دهغه حا صلات کا ل په کا ل زيا تيږی د شورشيا نو يعنی دطا لبا نو ما ليی برخه ورځ په ورځ بهبودی پيداکوی او په افغا نستا ن کی د تريا کو څخه د نا وړی استفادی کچه په لوړيدو دي.»***

په همغه وخت کي چي په کا ل (۲۰۱۴) کی د ترياکو حاصلات را ټول شو نو د ملګری ملتونو له خوا د تريا کو د توليداتو په اړين يو لړ نوی اوتازه ارقام نشر ته ور وسپا رل کوم چي په دي ارقا موکي داسی ښکاره شوچي د ترياکوحاصلات د (۲۰۰۷) کال دتريا کو د توليداتو په انډول زيات دي اود می په مياشت کال ( ۲۰۱۵) کي ترياک او له هغه څخه بيا ترلاسه شوی هيروين په بی سا ری بڼه سره د نړی با زارونو ته

دعرضی د پا ره داخل شو ترڅو چی د نړی د مشتریا نو احتیاج رفع کړي. کوم چی دهمدی حا لت په نظر کی نیولو سره د ا مریکی د متحده ایالاتو د مخد ره موادو سره دمبا رزی د دفتر یا دنها د مصا رفا تی بودجه (**4،8**) ملیارد دالرو ته لوړ کړ شو. کوم چې په دی برخه کی **سوپکو**(Sopko) هڅه او اند وکړ چی دغه رامینځته شوی تحولات چې دتریاکو په اړه رامینځته شوی دي امریکایانو ته په یوه کلی تصویر باندی واړوی نو هغه په دی مورد کی داسي وویل :« په افغانستان کی کوم چی دخشخاش دکرلو دپاره ځمکی ځا نګړی شوی دی دهغه اندازه (500000) هکتا ره ځمکی دي کوم چی دغه اندازه ځمکي دامریکي د (400000) دفوتبا ل د میدانونو مسا حت جوړوی.

په هرصورت طا لبا نو په افغا نستا ن کی د (۲۰۱۵) کا ل د جنګونو دشد ت په موسم کی (پسرلی) دعمل ابتکار پخپل لاس کی واخیستل کوم چې دتریاکو دراکړی ورکړی او دتجارت موضوع دهغوی دکړنو اود فعالیتونو په دننه کی خپل تا ثیر اچولی وه ، چې په همدی اړه ملګری ملتونه په کال (۲۰۱۵) کی دافغانستان په یوه جغرافیوی نقشه کی هغه ساحی او ځایونه چې طالبانو ترخپل ولکی لاندی راوړی وه وښودل چې په هغه کی طالبانو دهیواد زیا تی برخي اوبیا په ځا نګړي بنې سره ولایاتو ته نژدی د یر اولسوالیو کی مسلط شوی دی ، سربیره پر هغه طا لبا نو د یوی میا شتي په موده کي دافغا نستا ن لا نور زیاتی برخي دخپل جاسوسی او ضبط احوالا تی فعا لیتونو دسرته رسولو د پا ره پخپل لاس کی وسا تل . دا پخپله دتعجب وړ نه دی اوهغه داچي هغوی یعنی طا لبا نو دخپل ځواکمن او قوی حملاتو په سرته رسولو سره د خشخا شو د تولید حاصلحیزو مرکزی برخی دهلمند په ولایت کی چې هلته تقریباً د تریاکو دکلنی تولیداتو نیمایی برخه تولیدوی ترخپل تسلط لاندی راوړل .

په کال (۲۰۱۶) چې ا فغا نستا ن په اصطلاح له (15) کا لو څخه وروسته آزاد شو اود بارک«اوباما» داداری دمهمونقض کړ شوی پالیسیودپام وړ بدلونونو په نظرکی نیولو سره ، واشنګټن هلمند ولایات ته په ورو تولګیو سره په سلګونو نوی تازه دم سرتیری ولیږل چې هلته دکوکنارو دحاصلخیزوځمکو چی په نړی کي دداسی یومحصول (تریاک) شهرت لری د طا لبا نو د(اقتصادی جایزی) دترلاسه کولو خند شی اوپری نیږدی چې طا لبا نو دغه «اقتصا دی حا یزه » ترلاسه کړي . نو برسیره ددی لیږل شوی سرتیرو په څنګ کی هلته دهلمند په ولایت کی دامریکي دهوایی ځواکونه اودامریکی د (۷۰۰) نور ځانګړی قوتونو ملاتړ دافغانستان د قوتونو سره سره ، بیا هم دافغانستان نظامیان دفبروری اود مارچ میاشتو کال (۲۰۱۶) کی دهلمند ددوو اولسوالیو څخه شاه تګ وکړ چی دهغوی د شا تګ په نتیجه کی طا لبا نو په لسو اولسوالیو کی (۱۴) سیمی تر خپل شدید کنترول لاندی راوستل .

نوپه دی ډول سره دافغانستان نظامی قوتونه خپل جنګي روحیه دلاسه ورکړ اوطالبانو

دشپې له خوا په مدرن سلاحګانو سره مجهز خپل حملې ترسره کول اودامریکایی هوایي قوتونه بې دافغان دپوځ په ځمکنې اتکا با ندې له هغوی څخه په ډیر ناقص بڼې سره دفاع کول کوم چې بلاخره د جون په میا شت کال (۲۰۱۶) کې د **اوبا ما** دولت ددې ما تې په نتیجه کې په غیر مترقبه بڼې سره دخپل مخکینې پروګرام پای اعلان کړ او امریکا یې سرتیرو ته اجا زه ورکړ چې یوا ځې افغا نې قوتونو ته جنګې ریښتینې مشورې ورکړې او په جګړه کې دې ګډون ونکړې او دیو پریکړې پراسا س هدایت ورکړ چې په افغانستان کې دراتلونکې مودې دپا ره یواځې (۸۴۰۰) سرتیرې دې پاتې شي .

د پورتنیو یادونو څخه داسې په نظر رسید ل چې دا فغا نستا ن نظا مي قوتونه په هلمند اود ا فغا نستا ن په ځنو نورو ولایاتو کې دغه جګړه دلاسه ورکوی یعنې چې دوی په اکثرو ولایا تو کې د جنګ د مخکې وړلو توان نور نه لرې ، چې دا پخپله په اوسنې حالت کې له مختلفولارو څخه د شنونکو اود کارپوهو ناظرانو درنځ اود خپګان موجبات را برابرکړي او دوی له دغه وضع او حا لت څخه رنځ ګالي اوهغه داچې دغه جنګ یواځې اویواځې دهیواد دتریاک په راکړې اوورکړې باند ي د کنترول اودبرلاسی اودهغه دخرڅلاو څخه دسود اود ګټې د تر لاسه کولو دپا ره دي کوم چې دهلمند په ولایت کې دواړه اړخ یعنې هم طا لبې شورشیا ن اوهم دهغه ولایت دولتې چارواکې درقا بت اویا د سیا لې په بڼې سره ښکر په ښکر دي . کوم چې په دې اړه نیویارک ټایمز پخپل یو لیکنه کې د فبروی په میا شت کال (۲۰۱۶) کې داسې توضیح ورکړې وه : « دافغانستان دولتې مقا ما ت په مستقیم بڼې سره د تریاکو په راکړې ورکړې کې لاس لرې اودنورو قاچا ق وړونکو سره دتریاکو په قاچاق کې شریک دي اودطا لبانو سره دتریاکو دتجارت اودقاچاق پر سر په رقا بت اویا په سیالې کې دي »....... اواوس په بشپړ بڼې سره په ډاګه شوی چې طالبانو په همغه مخکینې توګه سره دتریاکو له بزګرانو څخه مالیې را ټولوي اوپه یوه راپورکې داسې څرګند کړ شوی دي چې دهلمند ولایتې رسمې چارواکې دتریاکو څخه دلاسته راغې له پیسو څخه یوځه پیسې په ځنځیرې ډول سره دافغانستا ن د دولت کابل کې مرکزې لوړومقا ما توته ورکوی اوهغه هم ددې د پاره چې ددوی څخه ملاتړ وکړې او ددې جوګه شې چې د تریاک د کشت اود زرع څخه مخنیوی ونکړې او هڅه دې وکړې چې تریاک وکرل شې او ددوی دغه مشغولتیا دوام وکړې .

دملګرو ملتونو دامنیت شورا پخپل یوه څیړنه کې داسې وموند چې په عین حال کې طالبانو په منظم اوپه سیستیماتیک توګه سره دمخدره توکو دتجارت په هر مرحله کې له هغو بزګرانو څخه چې تریاک کرې (۱۰) سلنه ما لیه راټولوي او هم د هیروینو دلابراتوارونو د کنترول اودهغې دسا تنې دپاره کوم چې خام تریاک په هیروین واړوی د یو تضمین کونکې داصل په توګه په نظر کې نیسې اود هغه دفعال ساتلو دپا ره جګړه کوي ۰ د نیویارک ټا یمز په قول سره طا لبان په آسانې سره د تریاکو له ترافیک څخه

مالیه نه اخیستل اما اوس په ډیر جدی اوپه مستقیم ډول سره په هغه کی سره ژور ښکیل شوی دي تر هغه ځای پوری چي اوس حتی ډیر ستونز من ښکا ری چی د طا لبا نو قاچاق وړونکی ګروپونه دمخدره توکو د لوی مافیا اویا د کارتلانو څخه سره بیل کړو .

دغه دتریاکو دتولیداتو بی ثیکاو اوناپایدار نوسانی روند د(۲۰۱۷) کال په اوږدو کي دوام پیداکړ ، ترهغه چي په افغا نستا ن کي د تریا کو محصولات تقریباً دوه برابره یعنی (۹۰۰۰) ټنو ته ورسید چی دا اندازه محصولات د (۲۰۰۷) کال دتریاکو دتولیداتو په پرتله یوزیات رقم جوړوی . دهلمند په ولایت کی دتریاکو دکرلو دپاره ځانګړی شوی ځمکه (۷۰) سلنه زیا ت شو یعنی (۱۴۰۰۰) هکتاره ځمکه د تریاک دکرلو دپاره چمتو شوی وه چي دټول هیواد دتریاکو دتولیداتو (۴۴) سلنه جوړول – دنومبر په میاشت کی داسی رامعلوم شو چی طالبانو دتریاکو دمحصولاتو دخرڅلاو له پیسو څخه (۶۰) سلنه دسلاح د پیرید لو او د نوی استخدام کړشوی جنګیا لیو د معا شا تو د ورکولو د پاره په مصرف رسوی یا (۶۰) سلنه بودجه دمد رنو سلاحګانو درانیولو اود نوی استخدام کړشوی جنګیالیو د معاش ورکول د پاره ځانګړی کړی دي . نو دهمدی اصل په پام کی نیولو سره دامریکی د متحده ایالاتو قوماندان اولوی فرمانده په افغانستان کي په ډیر جسارت او سرلوړي سره د **ددونالد ترومپ** د پریکړی په رڼا کی وویل چی دغه «روانه جګړه کی بریالیتوب زمونږ په برخه کی دی» اوداځکه چی دا دلمړی ځل دپاره دی چی دافغانستان په اسمان اوبیا په ځانګړی توګه دهلمند دولایت په فضا کی زمونږ (F22) او (B52) الوتکی د طا لبا نودهیروینو پر لابراتوارونو باند ي بمونه غورځوی او دهیواد دټولو (۵۰۰) اوسنی موجوده دهیروینو د تصفیه خانی یوه برخه دخاوری سره خا وری کړل یعنی دتریاکو هغه کارخانی اولابراتوارونه کوم چي په قوی احتما ل سره دکلی په سطح کی دطالبانو د اقتصاد په بهبودی کی خپل نقش ترسره کول نو په پای کی داسی ویلی شو چی دطالبانو د کلی داقتصاد بنه او دولتی فساد به دیو معما په بنه په ذهنونو کی به پا تي شی .

په افغانستان کي دامریکی د متحده ایالاتو دمداخلی پراخه ناکامی د نوموړی هیواد دنړیوال ځواکمنی اودموجوده قدرت دپراختیا پیما نه د محدودیت سره مخامخ کوی او هغه داچي دوارو یعنی دتریاکو کرهنه اودطالبانو نا فرما نی او یاغیتوب داسی را ښیی چي واشنګټن د خپل پالیسی په درجه کی چي له کال (۲۰۰۱) څخه لاتراوسه پوری پر افغانستان باندی په زوره تحمیل کړی وه بن بست ( درید و یا ما تی ) ته رسید لی. لکه چي ټولو په دی باندی پوهیږو چي په نړی کي اکثرو خلکوته اقتصادی فعالیتونه ، تولید دکالیو مبادله ددولتونو ترمینځ داړیکو دنیولو اسا سی اصل او نقطه دي نو دهمدی اصل په نظر کمی نیولو سره که چیری دیو هیواد لکه افغانستان چی دهغه مهم پیداوار (کالا) غیر قانونی اوغیر مشروع اووسی ، نو هغه وخت سیاسی وفاداری په طبعی بڼی سره

په اقتصادی شبکو پوری لیږدول کیږی چی دغه غیر قانونی کالی (ترياک او هيروين) په ډير آسانی او په مخفيانه بنی سره خارجی مارکیټونو ته انتقال ورکړل شی اودهمدی کالی دنه ضایع کیدو اودهغه دساتنی په هره مرحله کی باید مالی او اشتغال رابرابرکړی

**.جان سوپکو (John Sopko) په کال (۲۰۱۴) کی په دی مورد داسی توضیحا ت ورکړ [ د مخدره توکو سوداگری دافغان دما لی سکتور ضیاع اویا له مینځه وړی او پرمخ دودی غیر قا نونی اقتصا د تقویه او غښتلی کوی ] چي دا پخپله په پا یله کی فسا د مشروع کوی دجرمی شبکودغصبولو لمن پراخوی اود طا لبا نو دپا ره دیومهم مالی د سرچینی د ملاتړ په بڼه خپل نقش لوبوی اودغه دافغان بلواگر ډلی تپلی د ا فغا نستا ن مشروعت په ملی او په بین المللی بڼی سره کمزوره کوي .**

## په کابل کی وړاندی ویونکي:

***اوږد لوستنه*** :د پيريو پيريوراهيسی عا رفان او صوفيان د ا فغا نا نو دهيلو اود ډار فرمان او لاربنودنه پخپل لاس کی رانیولی اوسا تلی دی اوپه هیواد کی سره د ګډ وډ يو او ناراميو بياهم دوی دخپل د ند و په جريان کی د خلکو له طرفه قدر او احترام شوی اوپه وطن کی څه ناڅه محبوب پا تي شوی دي .

***دمطلب ادامه*** *:وروسته د(۱۶)کا لوپرله پسی جګړی څخه، واشنګټن پخپل همغه مخکينی انتخاب سره چي په کال (۲۰۱۰)کی نیولی او تاکلی وه بیا همغه لاره وټاکل اوهغه داچي د«اوباما» د سمندری قوتونو جنرالانود «اوباما » په هدايت سره خپل سمند ري قوتونه دهلمند په ولايت (ماراجا) کی د يولړعمليا تونو د سرته رسولو دپاره پلی کړل نو هغوی لکه د تير اومخکينی دوه نيم لسيزی په ورته شا ن سره هلته د هلمند په ولايات کی د دام په حلقوکی ونښتل اوبند پا تی شو اوداځکه چی دهلمند حالت دکال په هر موسم کی دځنو عواملو په نظرکی نيولو سره تغير کوی ، لکه همغسی چي باران دغرونو له لمنو څخه واوری ويلی کوی اودغه دواوری ويلي شوی اوبو د سيلابونو په جوړولو سره له خپل ځا ن سره خس اوخاشاک راولي نو په همدی بڼی سره ددغه روان جګړی ددوام دپا ره طا لبا نو دهلمند دفقير نشين خلکو له کلو او با ندو څخه نوی تازه دم ځوانان د مياشتنی معا ش په ورکولو سره جنګ او جګړی د پا ره د کا ل په هرپسرلی کی چي د ترياکو دحاصلاتودراتولو موسم دی استخداموی اوهغوی ته دترياک د حاصلاتو دخرڅلاو دپيسو څخه معاش ورکوی . په هرصورت په دغه هيواد کی سره دځنو پيچلي او له ستونزو څخه ډک سياسی پرابلومونو په موجوديت سره سره بياهم د ستونزو څخه د وتلو ځني لاری او الترنا تيفونه موجود دي يو ددغه الترناتيفونو څخه دادي که چيری ددغه روانی جګړی دنظامی اوعملياتونو دمصارفاتو يا دهغه دځانګړ کړی شوی بودجی يوه وړه اويا کوچني برخه په دغه هيوادکی دکرهنی اودمالداري په سکتورکي پانګونه وشی نو دهمدي پانګی په اچولو سره کيد لی شی چي دلته زارعت وده وکړی او تولو بزګرانو ته کوم*

چې اوس ترياک کرې د تريا کو د کرلو څخه ډډه وکړي او هغوی ته دنورو غلو دانو دکرلو چا نس ميسر اودهغو دپا ره داشتغال لازم فرصتونه ترلاسه شي ، باغونه ورغول شی ، نوی ويجاړی ځمکی له سره کرهني دپاره چمتو شی ، داوبو لګولو سيستم کوم چی ددغه جګړی په دوه لسيزو کی وران اوويجاړ شوی بيا له سره ورغول شی اود بلی خوا څخه که بين المللی ټولنه دلته په ا فغا نستا ن کی دکليو دپراختيا دپاره پام واړوی او دهغه هيواد بزګران د ترياک دغير قا نونی پيدار له وا بستګی څخه خلاص کړی او د کرهڼی دودی د پاره دا فغانستا ن سره مرسته وکړی نوپه هغه صورت کی به ا فغانستا ن زمونږ په سيا ره کی ديو نارکوتيک دولت په څيرپا تی به نشي اويا نارکوتيک دولت به ورڅخه جوړ نشی . او شا يد چي په دغه هيواد کی د تا وتريخوالی لمن را ټوله شی .

**---------------------------------------- په درنا وی «2018-01-18»**